# زموږ یوازینی پښتو

د ژبو ښه والی پر نورو غوره توب خو په دې سره دئ، چي ژبه دومره ارته وي، چي سړی هر راز خبره په دغه سره وویلای سي، یا يې ولیکلای سي.

که څه هم ژبي یو د بله و مرستي ته هر کله اړي دي، او یوازي کومه ژبه پخپله نه سي بشپړېدلای، بیا هم ځیني ژبي له خپله توله دومره ویناوي او ویي (الفاظ) لري، چي په لږ زیار د پردو له اړتیا څخه وزي.

د عربو ژبه هغه ژبه ده، چي د نړۍ د ژوندیو او لویو ژبو څخه ګڼله کیږي، سره د دغه هم ځیني پردي ویي پکښې سته، چي د دغي ژبي پوهانو راښوولي دي.

دغسي هم د اوسنۍ ژوندۍ نړۍ لوېي او سمي ژبي لکه انګریزي، فرانسوي او نوري پردي لاتیني او یوناني ویي پخپل منځ کي لري، پاړسي هم یوه غوره ژبه ده، چي دا زر کاله کیږي د ټولواکانو او مشرانو ژبه ده او ډېرو سړو د دې ژبي په سمولو او خپرولو کي زیار کښلی دئ، او د دې پر سمون ډېر لګښت (مصرف) سوی دئ.

سره د دې ټولو روزنو او د زرو کالو پالنو هم که اوس موږ وغواړو، چي په سوچه او یوازي پاړسي څه ولیکو، ډېره به ګرانه وي او ډېر ځله به و عربي ژبي ته اړ سو.

پښتو ژبه خو پخپله یوه ارته ژبه ده او په ډېره سوانۍ په سوچه پښتو موږ هر څه کښلای سو، ما پخپله په پښتو کي دومره کتنه او پلټنه نه ده کړې، لکه په پاړسي کي چي مي کړې ده، خو اوس چي څه لیکم، په یوازي پاړسي به دوې درې لیکي په ډېر زیار ولیکم، په پښتو خو مخونه بېله ځنډه سوچه کښلای سوای. له دغه څخه ښه راڅرګندیږي، چي زموږ ژبه له خپله توله یو بشپړ واک د هر راز لیک او لوست لپاره لري، هغه څوک چي په دې ژبه کي لږ څه روږد وي زما سره به دا ګای ومني.

موږ دمخه هم کله کله د خپلو ویونکو او پښتنو ورونو سره په یوازي پښتو ګډ سوي یو او مخونه سوچه پښتو مو خپلو ورونو ته وړاندي کړې ده، لکه چي د دمخنۍ ګڼې څخه اوس موږ دا غوښتي چي وروسته تر دې یوازي پښتو ته بشپړه برخه ورکړو، او له هري خوا څخه په سوچه پښتو د خپلو ویونکو سره وینا وکو، په دې لار کي موږ له خپلو پوهانو پښتنو ورونو څخه هم روزنه او مرسته غواړو، چي د دوی په ګډ زیار او مښود زموږ د ژبي هغه ټوله پټي ښېګڼي وځلیږي، او ټولو ته لکه برېښنا داسي وبرېښي، خپلوان يې لا ډېر په مینه کي ډوب سي او غلیمان يې ړانده او خازه سي.

سره د دې چي زموږ ژبي په پېړیو پېړیو د پردیو د بري له لامله (سببه) پالنه او روزنه نه ده لیدلې، او دغسي بې پالني تر موږ پوري راغلې ده، بیا هم په دغو لوړیو ورځو کي د ژوندون دغومره ارتوالی او ښېګڼي لري، چي موږ په خورا سوانۍ اوس هر څه په یوازي پښتو لیکلای سوای.

دا وینا تشه د خولې خبره نه ده، موږ ولاړ یو، چي تل په دې لار کي تاسي ته هر راز لیک په سوچه پښتو درکو، دا هم ښايي دلته و وایو، چي موږ پښتو سوي د پردیو ژبو ویي (کلمات) لکه د عربي او پاړسي ژبو خاوندان چي يې خپل ګڼي، موږ يې هم پښتو بولو، که کله کله کره پښتو ویي مینده نه سي، نو موږ به دغسي پښتو سوي (مفغن) ویي هم ولیکو.

هره ژبه ځانته یو راز د لیک او لوست ډول لري، او هر څوک پخپله ژبه کي خپل د زړه خبري په بېل ډول راباسي، پښتو هم ځانته د هري وینا د ویلو او لیکلو لپاره ډولونه لري، چي په هغه ډول لیکنه یا لوستنه خورا ښه خوند کوي او د ژبي والي (ادبیت) له پلوه هم خورا ښه ښکاریږي.

په پښتو وايي: چايو ته دي شيدې واچولې؟

که موږ دغه انګرېزي وينا کټ مټ Do you take milk in your coffee :په انګرېزي ژبه دغه وينا بل راز راځي پښتو کو، نو ښايي چي داسي ووايو: تاسي پخپلو چاپو کي شيدي واخيستې؟

ولي چي ټېک په انګرېزي اخيستلو ته وايي، په پښتو دغه وينا په بل ډول کېږي، نو که زموږ ليکونکي په دغه ډول ځان په کوچني چاپېر کي پاته نه کي او لږ څه د خپلي ژبي شاوخوا ګوټ او سيمه وپلټي، کورټ به دوی د يوازي او کره پښتو په ليکنه کي پاته نه سي او هر څه به پخپله سوچه ژبه وليکلای سي.

رشتيا هم دا ده، چي يوه ژبه د بلي ژبي د ويناوو او وييو لپاره کټ مټ هغسي ويناوي او ويي نه لري، هغه ويناوي په بل ډول او بل راز پکښې ويل کېدای سي.

نه ښايي چي زموږ ګران د پښتو ليکونکي د نورو ژبو په ډول خپله ژبه پر بله خوا واړوي، د دې خپل د ځان ښېګڼې دي وپلټي او رابرسېره دې کي، چي دا تر شا پاته ژبه په رښتيني ډول ژوندۍ او د ښېګڼو خاونده سي.

طلوع افغان، ۱۳۱۷ ش، ١٤ ګڼه، لومړي مخ.